## د کرني پوهنځي د ریاست پیغام

### پوهنیار سیدالرحمن

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

څرنګه چې لوړې زده کړې د یو هیواد له مهمو او مبرمو ضرورتونو څخه ګڼل کیږي، نو په همدې اساس د هیواد خود کفایي او ځان بساینې ته رسیدل بدون د لوړو زده کړو څخه ناشوني دي. ځوان تحصیل یافته، په مسلکي او تخنیکي پوهه سمبال قشر د یوې متمدنې ټولنې او هیواد د ملاتیر ده، همدا بشري او د پرمختللي علم په زیور سمبال بشري نیرو کولای شي چې د هیواد لویې ستونزې او د پرمختګ په لار کې ولاړ خنډونه په پوره توانایي سره له منځه یوسي. پوهنتونونه د همدې سترو موخو د تحقق په پار یواځیني مرکزونه دي چې لمړیتوب او رسالت یې د لوړو زده کړو وړاندې کول، علمي تحقیقاتو او تالیفاتو تر سره کول دي. پوهنځي او څانګې د پوهنتون په تخصصي برخو کې د زده کړو او خدماتو د وړاندې کولو سرچینې دي، او عمده هدف یې د پوهنتون د ماموریت او لرلید ته کار کول دي. کرنیز سکتور د ګران هیواد افغانستان د اقتصاد اساس ګڼل کیږي، افغانستان یو کرنیز هیواد ده چې تر ۷۵ سلنه وګړي یې په کرنه او مالداري مشغول دي، د دې لپاره چې کرنه له عنعنوي او دودیز روش څخه عصري یا میکانیزه روش ته بدله شي، له في واحد ساحې څخه زیات عاید په لاس راشي او د کرنې په سکتور کې شته ناخوالې له منځه یوسي. د کرنې پوهنځی تل کوشش کوي تر څو د تدریس تر څنګ د علمي تحقیقاتو په اساس د هیواد او سیمې په کچه د ستونزو په حلولو کې کلیدي رول ولوبوي او همدا چاره تر ډیره بریده د له اړونده ذیربط ریاستونو سره په پوره تفاهم سره تر سره شوې ده، چې اړوند تحقیقات یې د کرنې او مالداري په برخه کې تر سره کړې دي او د خپلو عملي او تحقیقاتي څیړنو پایلې یې له اړونده ریاستونو سره شریکې کړي دي. د کرنې پوهنځی د پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې له مخکښو پوهنځیو څخه شمیرل کیږي چې د پوهنتون په کچه په زیاته اندازه تحقیقات، مجهز اداري او تدریسي ځانګړی تعمیر، لوړ رتبه استادان، یو ښه کتابتون او همدارنګه دوه بابه تحقیقاتي شنې خونې لري. چې استادان او محصلان د عملي څیړنو په پار ترې استفاده کوي.



## د کرني پوهنځي د معاون پیغام

### پوهنیار محمد بلال هلال

د دانا او ځواکمن ذات په سپیڅلي او مقدس نامه!

په هره تحصیلي برخه کې د متدین، متخصص او ژمنو افرادو درلودل، د هېواد او ملت ستونزې درک کول، په اړه یې څیړنې ترسره کول او د حل لارې چارې یې د هېواد له حاکمې طبقې او ملت ســره شــریکول اړوند ملت له ناخوالو څخه خلاصوي.

له ښه بخته پکتیکا د لوړو زده کړو مؤسسه دا ویاړ له ځان سره لري او د متدینو ، ژمنو او متخصصو افرادو په بېسارو هڅو یې د یاد هدف د ترلاسه کولو لپاره لاسونه بډ وهلي او د معیاري او باکیفیته تدریسي او څېړنیز سیستم رامنځته کول چې د ټولنې غوښتنو ته ځواب ویونکی او د هېواد په سطحه د باور وړ وي، په شریکه کار کوي. یاد تحصیلي نهاد د یو علمي کور په حیث له کمي او کیفي پلوه د چټک پیشرفت او پرمختګ په حال کې دی. د باکیفیته تدریس، تحقیق او خدماتو په وړاندې کولو سره هڅه کوي چې د ټولنې اړتیاوو ته په کتو د هېواد په سطحه مخکښ تحصیلي نهاد واوسي اوتر څنګ یې مسلکي، ژمن او ریښتوني افراد وروزي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي.

## سریزه

په هر هیواد او سیمه کې چې بشري ټولنه ژوند لري د خپل ژوند د سطحې د لوړولو، پراختیا او معیاري کولو لپاره انسان مجبور ده چې د خپل ماحول او په سیمه کې د شته منابعو د پیژندلو، استعمالولو او هغوی څخه معقوله استفاده کول بشري تقاضا ایجابوي. څرنګه چې د کرنې او مالداري سکتور د هیواد له مهمو سکتورونو څخه شمیرل کیږي، او د هیواد زیاتره وګړو معشیت له همدې لارې څخه تامینیږي. نو د کرنې پوهنځي اساسي رسالت د هیواد د کرنې او مالداري په برخه کې د ماهرینو، محقیقینو او په ټوله کې د یوې منظمې او مسلکي بشري نیرو روزل دي. تر څو د هیواد کرنیز سکتور د دودیز او عنعنوي جبر او رواج له زولنو خلاص شي، او د میکانیزه سیستمونو په ترویج سره د هیواد کرنیز وضیعت بهتر شي، چې دا چاره تر ډیره بریده د یوې ښې بشري نیرو سره سره د نویو او معاصرو تکنالوژیو په کارولو سره شوني ده، د کرنې پوهنځی د پورتنیو اهدافو د تحقق او په کزنیزه برخه کې د ځان بساینې لپاره په پوره ژمنتیا سره د یو مجرب او محقق ټیم پواسطه متې را نغښتې دي.

## د تاسیس کال

۱۳۹۳ هجري شمسي

# د افغانستان اسلامي امارت
# لــوړو زده کــړو وزارت
# پکتیکـــا د لوړو زده کړو مؤسسه
# کرنې پوهنځی

## تاریخچه

د کرنې پوهنځی به ۱۳۹۳ ل ل. کال کې د پکتیکا لوړو زده کړو مؤســسـې په چوکاټ کې خپل فعالیت پیل کړ. چې په خپل اکادمیک فعالیت په دوه تخصـصـي څانګو کې چې هارټیکلچر او حیواني علومو څخه عبارت دي، تر ســره کوي. یاد پوهنځي لمړۍ دوره فارغین په ۱۳۹۶ کال کې ورکړي او تر دې دمه یې ۵۷۱ تنه مســلکي اشـــخاص تولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

## لیدلوری

د کرنې پوهنځی به د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د کرنیزو علومو په برخه کې د پوه، ژمن، مسلکي او متخصصو افرادو په روزلو سره د هیواد په کچه سیال او با کیفیته پوهنځی وي.

## ماموریت

د کرنې پوهنځی د اکادمیک چاپیریال په لرلو سره د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او باکیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

Sayedrahman7770@gmail.com
0093(0)728359459
پکتیکا پوهنتون د کرنې پوهنځی

## ارزښتونه

- پوهنتون ته ژمنتیا
- صداقت او ریښتینولي
- له سمتي، نژادي، قومي، لساني او مذهبي تبعیض څخه لرېوالی.
- مسلکیتوب
- د ځواب ورکوونې توانایي
- اخلاق او کرامت


## موخې

- په اسلامي، ملي او مسلکي روحیه د محصلانو روزل.
- د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژیو او لوړو وزارت د قوانینو، لوایحو او طرزالعملونو سره سم د کرنیزې مسلکې پوهې تر لاسه کول او په ټولنه کې ترویجول.
- محصلانو ته د اوبو، نبات او خاورې د ادارې او تنظیم په برخه کې پوهه ورکول او د ستونزو ته د حل لارې پیداکول.
- محصلانو ته د هارټیکلجري محصولاتو د تولید، پروسیس، روزنې او بازار موندنې په برخو کې کافي معلومات ارایه کول او په ورځني ژوند کې تطبیقول.
- محصلانو ته د مختلفو اهلي څارویو د روزلو، ادارې، تنظیم او د مختلفو حیواني محصولاتو د پروسیس او بازار موندې په برخه کې کافي معلومات وړاندې کول.
- محصلانو ته د کرنې او مالداري سکتور په برخه کې د خامو موادو د برابرولو او کروندګرو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې کافي معلومات ارایه کول.
- ګلالي محصلین به د فراغت څخه ورسته د ټولنې په مختلفو برخو او کار بازار کې د مسلکي کار او غوره محصول د تولید توانایي ولري.
- برحال محصلینو ته د پوهې د خپرولو په اړوند سالمه لارښوونه او انګیزه ورکول؛
- د پکتیکا ولایت له دولتي او غیر دولتي نهادونو سره د ښو اړیکو ساتنه او له هغوی سره د علمي همکاریو د هوکړه لیکونو (تواميتونو) لاسلیکول؛

## کمېټې




## د پوهنځي تشکیلاتي چارت




## امکانات

- په الکترونیکي تجهیزاتو سمبال درسي ټولګي؛
- د منظم کتابتون شتون؛
- د اوبو، برېښنا او انټرنیټ کافي امکانات؛
- مسلکي، متخصص او لوړ رتبه استادانو شتون؛
- د شنه خونو یا ګلخانو شتون؛
- د چرګانو څېړنیز فارمونه.